## لنډيز
### مهمی لاس ته راوړنی

* په عمومی توګه د هيواد حالت مثبت ارزول شوی ځکه په سلو کی ٤٤ افغانان وايی چی هيواد په ښه لوری روان دی. په داسی حال کی چی په سلو کی ٢١ افغانان دا احساس کوی چی هيواد په غلط لوری روان دی، په سلو کی ٢٩ کسان يو راز ګډ احساس لری او په سلو کی ٤ کسان باوری نه دی.

* ښه امنيت د هيواد په ښه لوری د تګ لامل بيان شوی دی، خو هغو کسانو چی د هيواد تګ لوری يی غلط ارزولی د امنيت ستونزه يی ددی وضعی لوی لامل نه دی ښودلی.

* د هيواد په کچه بيوزلی، امنيتی بی ثباتی، د بيا ودانولو، ښيرازی سوکه توب (ورو والی) او بيکاری لويی ستونزی شميرل شوی. همدا راز فساد او د طالبانو دوامداره شتون کوم چی د ښيرازی د مخنيوی لامل ګڼل کيږی هم د انديښنی وړ بلل شوی دی.

* د سروی ځواب ورکونکو فکر کاوه چی بيکاری ٣٤ په سلوکی، د برق ستونزه ٢٥ په سلو کی، د اوبو ستونزه ١٨ په سلوکی، بيوزلی ١٨ په سلو کی، کمزوری اقتصاد ١٧ په سلو کی او فساد ٨ په سلو کی په محلی کچه لويی ستونزی وی.

* د ځواب ورکونکو نږدی نيمايی کسانو د خپلی سياسی عقيدی په څرګندولو کی د آزادی احساس کاوه، که څه هم چی د نورو سياسی نظريو د زغم په هکله د دوی رويی ډول ډول وی. ګر چه د يو حقيقت په توګه، په سلو کی ٨٤ کسانو داسی پتيله چی حکومت بايد سوله اييز اپوزيسيون ته اجازه ورکړی. په شخصی لحاظ په سلو کی ٦٣ ويل چی هغه سياسی ګوندونو ته چی د دوی نه خوښيږی، اجازه ورنکړی چی د دوی په ساحو کی غونډی جوړی کړی.

* که څه هم په سلو کی ٧٥ ځواب ورکونکو دا احساس کاوه چی حکومت ددوی نظريو ته ډيره پاملرنه نه کوی، ددوی په سلو کی ٧٥ دا احساس کوی چی ټولټاکنی کولی شی بدلون رامنځ ته کړی.

* کله چی د ديموکراسی د تعريف په هکله و پوښتل شول، په سلو کی ٥٤ ځواب ورکونکو ديموکراسی د آزادی او په سلو کی ٣٧ د سولی په معنی وبلله.

* په سلوکی ٧٧ ځواب ورکونکو د ديموکراسی د پلی کيدو لاری سره خوښ دی.

* په سلو کی ٦٢ ځواب ورکونکو راپور ورکړ چی د ملی شورا د ٢٠٠٥ کال په ټولټاکنو کی يی رايی ورکړی. له نيمايی څخه ډيرو (په سلو کی ٥٤) باور درلود چی ټولټاکنی آزادی او عادلانه وی. له نيمايی څخه ډير باور لری چی راتلونکی ټولټاکنی به آزادی او عادلانه وی.

* پداسی حال کی چی يوائی په سلو کی ٣٧ سروی شوی کسان د ټولنی د پرمختګ د شوری ګانو څخه خبر وو خو ددوی په سلو کی ٨٠ کسانو د دی شورا ګانو د کارو څخه رضايت درلود.

* د سروی د ځواب ورکونکو يو ډير لوی اکثريت (په سلوکی ٨٧) ويل چی دوی په ملی اردو باندی باور لری او په سلو کی ٨٦ په ملی پوليسو خپل باور وښود.

* سروی دا موضوع و موندله چی دغه درک يو عام حالت ځانته غوره کړی چی فساد يو ملی ستونزه ده. ګرچه، د خلکو عملی تجربه چی له فساد سره د دوی مخامخ کيدنه او يا په فساد کی لاس لرل و ښيی، ډيره لږ وه.

* پداسی حال کی چی په سلو کی ۸۰ کسانو د تریاکو کرل غلط کار باله، د تریاکو د کرنی د تداوم لپاره یی اقتصادی دلیل وړاندی کاوه، خو لږ کسانو بیا د تریاکو کرنه له ترهګری، نا امنی او یا فساد زیاتوالی سره تړلی بلله.

* د سروی د ځواب ورکونکو یو ډیر لویی اکثریت یعنی په سلو کی ۸٦ افغانانو ویل چی په د جنډر، قوم او دین د په پام کی نیولو پرته د برابرو حقونو اصل منی.

* د سروی د ځواب ورکونکو یو ډیر مهم اکثریت د ښځو د کار او تعلیم د حقونو پلوی کوله.

* د ځواب ورکونکو څه نا څه نیمایی کسانو دا احساس درلود چی ښځی او نر باید په سیاسی مشرتابه کی یو شان استازیتوب ولری.

* دواړو نارینه او ښځینه ځواب ورکونکو د بی تعلیمی او بی سوادی د افغانو ښځو یو له ډیرو لویو ستونزو څخه و باله.

* د یو جنایت د راپور ورکولو لپاره په سلو کی ۶۳ ځواب ورکونکو پولیسو ته مراجعه کړی، پداسی حال کی چی په سلو کی ۴۴ کسانو لپاره د ستونزو د حل ښه مرجع د محل د شورا مشران وو او په سلو کی ۳۷ کسانو دویمه مرجع پولیس بللی. پداسی حال کی چی په سلو کی ۶۱ کسانو احساس کاوه چی د ستونزو په هکله باید له دینی علماوو سره مشوره وشی، ډیرو داپه ګوته کړی چی ستونزی یی د محلی مشرانو په مرسته حل کړی.

* په سلو کی ۶۰ هغه افغانان چی سروی شوی احساس کاوه چی یو مسلمان ملت کولای شی دیموکراسی ولری بدون له دی چی غرب پالونکی شی پداسی حال کی په سلو کی ۳۵ احساس کاوه چی دیموکراسی د اسلامی ارزښتونو لپاره یو چلنج دی.

* په سلو کی ۵۴ هغو افغانانو چی سروی شوی احساس کاوه چی دوی د طالبانو د حکومت په نسبت ډیر هوسا دی، پداسی حال کی چی په سلو کی ۲۶کسانو احساس کاوه چی دوی لږ هوسا دی او په سلو کی ۱۲ کسانو احساس کاوه چی ددوی په هوساینه کی هیڅ تغییر ندی راغلی.

* رادیو د معلوماتو اصلی سرچینه پاتی شوی، ولی تلویزیون د دوهمی مهمی سرچینی په توګه سر اوچت کړی او دشفاهی تبلیغاتو ځای ویی نیولی کوم چی اوس دریمه مهمه معلوماتی سرچینه ده. د محلی رادیو ګانو او تلویزیون پرمختګ د چاپی رسنیو په انډول ډیر ترسترګو شوی.